انجینیر فهیم پښتون وردګ ۲۰۱۲/۰۸/۰۲

# خبرپال ویب پاڼه باندې شوکه (هك) د فاشېزم یوه

## بله پروژه زموږ پر ولس پلې شوه!

پښتنوبیا شملې کږې کړې
پردښمنانوبه بیا جوړکي ناتارونه
افغانان د جنایتونو او د وخت چالاکه او سپین سترګي فاشېزم پر وړاندې ولې پټه خوله او بې دربځه دي؟
د نړۍ پر ټولو کسابیو چې ډېره وینه یې توییږي هغه ګډان دي. دا د دې لپاره چې پسونه په خپل ژوند کې همداسې دي. خو زمږی پښتون ولې داسې شو؟ داځکه چې پردی پالو غدارانو د ای اېس ای، ایران، روسانو او اربو او نورو بهرنیو هم زمري پښتون په سیاسي اېډز ککړ کړ او هم ورته دسیاسي ګډ څرمن ورواغوستله. او موږ هم په دې کې په دې پېره یوو چې دې ته مو کتل او هېڅ مو نه کول چې دا څه چل پر موږ روان دی!

دا څلوېښت کاله زموږ پر ولس ډول ډول جنایتونه تر سره کیږي، او موږ بیا هم ورته رټ رټ ګورووا!
څو وخته مخکې د بېنوا وېب پاڼه د کورنیو جنایت کوونکو لخوا وتړل شوه، بیا ورپسې د لرو بر ویب پاڼه باندې شوکه وشوه (هك شوه) چې مو په هغه وخت کې دا فاشېزم وغندلو، او اوس دا دی خبرپال ویب پاڼه هم هك شوه او هم یې پنجابك فاشست فلټر کوي. هله د کور دننه زموږ د پښتو ژبې پر وړاندې دومره چالاکه فاشېزم ناتار جوړ کړی چې کله د پښتو ژبه بلکل وژني او له نړۍ والو کنفرانسونو څخه یې لرې کوي ته به وایې چې پښتون قام بلکل د ځمکې پر سر ختم شو او دا چالاکه او سپین سترګی فاشېزم خو همدا غواړي، او کله مو کتابونه سوځي او کله مو ملي توري ورانوي او کله موږ سره یو ډول او کله بل ډول فاشېزم کیږي. خو موږ بیا هم پټه خوله او بې دربځه یوو!

اوس خو ماته بلکل همداسې ښکاري او جوتیږي چې په موږ کې اوس د همدې سیاسي پسه څرمن په سرو شمېر هم ډېر وي او هم همدوی بلکل نه پوهېږي چې دا څه دي. کنه دنړۍ پر بل هېڅ قام داسې ناتارونه نه کیږي لکه چې پر موږ روان دي. زه هغو سیاسي او کلتوري زمریانو ته درنښت او سلام کومه چې د دې جنایتونو او خبیسه فاشېزم پر وړاندې یې لیکنې پیل کړې او کوکاري وهي.

او موږ خو وایوو د پښتو ژبې ختمول او ورته زیان رسول، دا د وخت فاشېزم دی او دافغانانو د مور وژنې او راتلونکي نسل ختمونې سره برابره ده!

موږ دا په کلکو ټکو غندو او د دې فاشېزم د رسوا کولو او مخ نیوي او د مینځه وړلو لپاره هرې قربانۍ ته چمتو یوو.
خو یواځې په دې نه کیږي چې دا جنایتونه او فاشېزم په کلکو ټکو وغندوو. زه په ټولو افغانانو غږ کوم چې د نړۍ په هر ګوټ کې چې دي هلته دې د دې جنایتونو او فاشېزم د غندلو لپاره دې شته ټولنې او سیاسي ډلې سره راټولې شي اوکنه نوې ولسي پاڅونونه او غورځنګونه دې جوړ کړي لکه افغان ولسي غورځنګ، او د خپل کړېدلي او ځورېدلي ولس غږ دې په نړۍ واله کچه د اروپا، اسیا، امریکا او ان افریقایي هېوادونو سوله ملو او سوله خوښو ولسونو او سیاسیونو ته وررسوي او د دوی څخه دې ملاتړ غوښتنه وکړي لکه څنګه چې د جنوبي افریقې مشرانو لکه نلسن منډېلا او کانګرس وکړل. او هم دې همدا مبارزه په کورنۍ کچه د هر کور کلي، ډېرې ، ټولنیز او سیاسي مورچل څخه پیل کړوو. هر افغان دا مسولیت لري چې په هغه مېشت هېواد کې ، که د ننه په هېواد کې او که په بهر کې وي د خپل د سیمې پارلمان غړي ته د خپل کړېدلي ولس غږ وررسوي او د جنایت او فاشېزم د غندلو، درولو او مهاکمه کولو لپاره دې د هغوی ملاتړ تر لاسه کړي. موږ بایده چې ټول د ټولنیز او سیاسي مبارزې وسایل لکه لیکنې، غندنې، لاریونونه، د لوړې ناستې او ان لار بندې او کار ان ښار بندې تر سره کړوو. تر څو د دغه جنایت څخه وژغورل شوو او عدالت او سوله ټینګه شي او پرمختګ راوستل شي. دا کار ډېر ګران خو ناشونی نه دی. سره له دې چې دا کار روان دی او موږ د دې لپاره ډېره تجربه تر لاسه کړې ده او اغېزه یې مو هم لیدلي ده.
کنه بیا موږ نشو کولای چې خپل ځوانان د جنایت او فاشېزم پر وړاندې د وسلو اخیستلو څخه راوګرځوو او که چېرې بیا زموږ د ولس ځوانان د بل چا د جنایت او فاشېزم پر وړاندې ځوابي کړه وړه د اور او ټوپك تر کچې تر سره کوي نو بیا به د بل هېڅ هېواد نه ژورنالست خوندي وي او نه یې هم مېډیایي مواد او نه هم مرکزونه (اخبار، مجلې، راډیو، تلوېزیون او انټرنېټي مرکزونه).
او بیا یې مسولیت د همدې جنایت ساتو، جنایت پالو او جنایت ملګرو او فاشېزم تر سره کوونکو پر غاړه دی.
درنو افغانانو موږ خو د افغان ولسي غورځنګ په مټو او سته خپل ولس او هېواد ژغورلو، عدالت، سولې او پرمختګ ته ژمن او چمتو یوو!
تاسو څه کوئ؟
درنښت.
دوبۍ، متحده اربي امارات


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ